# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں

نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ وتفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

## السراجی فی الاشعار من قلم الشیخ ابی عمار عبدالوکیل صاحب صیانہ المولی من شر حاسد اذا حسد

میراث د نبی کښ یو اعلٰی میراث میراث دے

تَعَلَّمُوْا الفـرائـضَ سره ئے شوے دے بیـان

## حقوق متعلقہ بترکۃ المیت

څـــلور حـــکمہ د مـړی ترکے څہ متعلق دی

تکفین، دَین ، وصیت او بل میراث دے راروان

کتاب، سنت ،اجمـــاع، څہ دا میراث بہ تقسیمیګی

فروض او عصبہ ، ذوِی الارحام دی پہ خاص شان

## فصل فی الموانع

مانِـع دی د میـراث نہ اِختـلاف د دِیـن او دار

بل قتـل ، رِقِّیَـت دغہ اسباب دی د حِـــرمان

## باب معرفت الفروض و مستحقیها

فـــروضِ مُقَّـــدر دی پـوره شپـــږ ۶ کتاب الله کښ

دا نـــصف ، رُبـع ، ثُمـن ، سُدس ، ثُلـث دی ثُلثـــان

پہ تیولو کښ تضعیف تنصیف چلیږی ځان خبر کړه

اصحاب د دی فروضو دی پوره دولس۱۲ کسان

څٰـــلور دی د سړو نہ اب او جدِّ صحیحہ دے

بل رور صرف د موره بل خاوند دے مهربان

اتـــہ دی زنـــانہ زوجـــہ ، بنتـــہ ، صُلبـــی اِبنـــی

اُختـــہ ده پہ درے(۳) قسمہ مور او نیـا واوره بیـــان

## احوال الاب

د اب دپاره اِبـــن سره فـــرضِ مُـــطلقہ دے

اعنی سُدس د مال چی بیان کړے دے قرآن

تعصیب او فرض دواړه د بِنتہ څہ ملاویږی

تعصیب بہ وی فقط چی د وَلد نہ وی حِرمان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## احوال الجد

نیکہ پشان د پلار دے چی پلار نہ وی پہ میـراث کښ
مګــــر ځــــلور ځـــایـونو کښ جُـدا دے شم قُربان

د پلار سره د مړی نیا محرومہ وی میراث نہ
نیــکہ سره شریکہ وی میراث کښ پہ هــر آن

د احدُ الـــزَّوجَین او ابَـوین پہ موجودګئ کښ
اُمَّـــہ لـــره دے ثلث پس د احـدُ الــــزَّوجان

د اب پہ ځائے کہ جد وی نو بیا ثُلث د کُل مال دے
خِلاف پکښ ثـــابِت دے ابو یـوسف لہ مهـــربان

د اب سره اِخــوه تــول ساقـطیـړی اجــماعًـا
د جـــد سره ثـابِت دی خِـلاف شتہ دے د نُعمان

ابُـــو المُعتِـــق د ابـــن سره سُدس د مـــال اخلی
د جــد حُکــم جُـدا دے ابو یـوسف کــوی بیان

## احوال اولاد الام

اولادُ الأُم نہ یــو لـــہ سُدس رسی پہ میــراث کښ
اِثنیــن فصاعِــــدًا بہ ثُلث اخلـی پہ هـــــر آن

ذُکــور اِنــاث بہ واړه پہ میراث کښ برابر وی
وَلَـــد او اب او جد سره ساقِـــط وی هــر زمـــان

## احوال الزوج

د زوج دپاره نِصف وی چی کــلـــہ وَلَـد نـــہ وی
وَلَــــــد سره ئے رُبْـعَــہ ده د زوج دی حالتـــان

## احوال الزوجہ

نِــــساؤ نـــہ زوجـــاتو لہ یا ثُـمــن دے یا رُبــع
ولــــد سره دے ثُـــمــن ، رُبــع اخلی پہ فُقـدان

## احوال بنات الصلبیہ

" بنــــاتِ صلبیہ " لـــہ حـــالاتِ ثـلاثـہ دی
واحـــدے لره نصـــف او دوه او ډیرو لہ ثُـــلثان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

د اِبـــن سره " لــلــذکــر حـــــظ الانثییـــن "
دا اِبـــن گـــرځـــوی دوئ عصبہ دا دے احسان

## احوال بنات الابن

بنـاتُ الاِبـن کبنات الصُلب دی چی دوئ نہ وی
واحـــدے لـره نـصف او ثِنتَینـو لـــہ ثـــلثان
واحِـــدے صُلبیے سره دوئ سُدس د مـــال اخلـــی
پـــوره بـــہ شی ثُلثین چی دغہ حق دے د صِنفان
محرومے وی میراث نہ کہ موجـود صُلبیتین وی
لیکن کہ محاذات یا پہ اسفل کبں وی څوک ځوان
میـــراث بہ " لــلـــذکر مثل حـظ الانثیین " وی
پـہ ابـن د مـیت دوئ ساقـــطیـږی پہ هــر آن

## احوال اخوات اعیانی

اخـــوات اعـیانِیـؤ لہ حـالات پـوره خـمسہ دی
واحِـــدے لـــره نِـــصف او ثِنتینـو لـــہ ثُـــلــثـان
د اَخِ اعیانی څہ عَصَبہ گـــرځی میـــراث کبں
تـــــقسیم بہ لــــــلـــذکر مثـــل حَـظِّ الأُنثیان
باقـــی مـــال اخـــوات بـــہ د بنـــاتو سره اخلـــی
بنـــاتُ الاِبـــن هـــم شی عَـصَبہ پہ دی میـدان

## احوال اخوات علاتی

اخـــواتِ عَـــلاَّتِی هم کالاخـــوات اَعْیَـانِی دی
پہ نِصف او ثُلثان کبں چی معدوم وی دا اعیان
اُخــتَه اعیـــانی څہ دوئ تـــہ سُدس مـــلاویـــږی
اُختین سره محرومے وی چی نہ وی دوی څہ ځوان
پـہ اخِ عـــلاتی سره اخـــوات تـول عصبہ شی
تـــقسیم کبں مـــذکـــر لـــہ "مثل حظ الانثیان "
شپږم(۶) حالت کبں لُور او د زوئ لُور څہ عصبات دی
بنـــوالاعیـــان ، عـــلات لـــہ د بچـو سره جِـرمـان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

پہ اب او جد کښ اب سہ ساقطول اتفاقی دی
د جد ځہ صرف قول ئے پہ سُقوط کړی حَنَفیان

پہ اخِ اعیانی هم دا اُختہ چی عصبہ شی
ساقِط بنوالعلات شی دا وینا کوی مفتیان

## احوال الام

اِثنین فَصَاعِدًا سره هم سُدس د مال اخلی
کہ هر قسم اَخوات وی پہ تقسیم یا اِخوان

دریمہ د کُل مال بہ دا مُور اخلی چی دوئ نہ وی
د احد الزوجین برخے نہ پس دی لہ تاوان

## احوال الجده

جَدِّے لره دے سُدس کہ د پلار وی کہ د مُور
واحده وی کہ ډیرے خو چی وی صحِیحتان

د مُور طرف نہ مُور ځہ ساقطیږی چی ژوندئ وی
د پلار طرف نہ پلار ځہ ساقطیږی مهربان

د اب پشانے جد دے مګر امُّ الاب تہ نہ دے
میراث دا اغستے شی کہ ژوندی وی ټول نِیکیان

بعیده بہ مَحجوبہ وی میراث نہ پہ قُرْبٰی
قریبہ کہ هر څوک وی کہ میراث وی کہ حِرمان

ذاتُ قُرابَةٍ بہ مؤَخَّر وی د هغے نہ
چی مړی ځہ قربات وی یا ئے وی قَرابتان

امام محمدؒ پکښ لحاظ کئ د جِهاتو
امام ابو یوسفؒ کوی تقسیم علٰی الابدان

## باب العصبات

" عَصَبْ " ویئلے کیږی پَټو، پلو تہ د انسان
ګوشت پوشت کښ وی شریک پرے داغمن کیږی خاندان

نسب او پہ سبب ځہ عصبہ بیا تقسیمیږی
بنفسہ ، بغیره د نسبی صنفان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

دریم قسم مع الغیر د نسبی دے زما روره
انثی مع الانثی چی عصبه شی زما جان

## عصبه بنفسه

نسبت الی المیت کښ چی انثی نه وی طالبه
دا دی بنفسه څلور صِنفونه د انسان
یو اصل دے بل فرعه بل دے جُزء د دغے اصل
رابع دے جُزء الجد چی دا دی ترونه شم قربان

## عصبه بغیره

العصبه بغیره اربع من النسوان
دا هغه دی چی فرض ئے وو نصف و ثلثان
بنته او بنتُ الابن او صِنفین من الاخوات
اخته علاتی ده او اخته من الاعیان
چی رور ئے عصبه وی خو د ذات الفروض نه نه وی
نو نشی عصبه دغه اُنثی من النسوان

## باب الحجب

الحُجب منع کول د مُعَیّن دی د میراث نه
د کُل نه یا د بعض نه حُکه حُجب دے قِسمان
پینځو(۵) له دے حُجب من السَّهم الٰی سهم
اُمَّه او بنتُ الاِبن د ولد سره زوجان
اخته علاتی له شی د نصف نه شپږمه
چی کله وی موجود پکښ اخته من الاعیان
په حُجب حِرمانِی کښ وَرَثَه بیا تقسیمیګی
سته(۶) دی چی مَحجوب نه دی په حُجب د حِرمان
د مړی والدین دی لُور او زوئ ، ښځه و خاوند
دا نه ګرځی مَحجوب په هیڅ حالت کښ مهربان
منسوب چی وی میت ته څوک په کومه واسطه
سِوا اولادُ الُام نه واسطے سه وی حرمان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

قــریـب سره بعیــد مَحجــوبہ گــرځی د میراث نہ
تــفــصیــل څــہ عــصباتــو کښ تیــر شوے دے بیان

## باب مخارج الفروض

مخـــرج د مسئلے بہ د دے شپــږو(۶) معلــومیــګــی
چی نـصف ، ربـع ، ثمــن ، سدس ، ثلـث دی ثلثـان

احــاد ، احــاد چی راشی مسئلــہ کښ نــو مخــرج
هَم نـام دے مګــر نـصف چی مخرج ئے دے اِثنان

چی مثنٰـــی یـــا ثــلاثــہ خــو مِن نــوعٍ واحــدٍ وی
مَخـــرج د مسئلــــے بہ وی د جُــزء نہ مهـــربان

د کُـــل نـــوعِ ثانـــی یــا د بعضے سره نـــصف
مَخــــرج د مسئــلے بہ وی سِتــہؔ(۶) ګــوَم بیــان

چی رُبــع مُختلــط شی نو دولس(۱۲) نہ تقسیم وی
چی ثُمــن مُختلــط شی نو څلیریشت(۲۴) پہ ما ګران

مَخــرج چی د ذات الفــروض سِهامــو نہ اَنقَص وی
وَسعَــت پکښ صِحت لره کیــدے شی پہ خاص شان

## باب العول

سَبْعَہ(۷) دی مَخارِج پکښ څلور(۴) د عول نہ بچ دی
ثــلـــث او اربـعـــہ ، ثمــانیـــہ او بـــل دے اثنـــان

باقــی دریــو نہ شپږو کښ عول کیږی عشره(۱۰) تہ
وِتـــرًا کلــہ شُفْعــاً چی وی تقسیـــم څنـګــہ آسان

د دولس(۱۲) نہ اوولس(۱۷) تہ یو قسم باندے عول دے
اَعْنِــیْ صِرف وِتــرًا دے لا شفعـــاً واوره بیـــان

څلیریشتو(۲۴) نہ اوویشتو(۲۷) تہ بہ عول واحده وی
مِنبَـــر بانــدے کــوفہ کښ ووعلیؓ پہ دی ګویان

د عــول دپـــاره سَبــعٌ وعشرین(۲۷) آخــری حــد دے
مګــر اِبن مَسعودؓ پکښ یو دیرش(۳۱) تہ کړی رسان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

## معرفت التماثل والتداخل

یو شمــار چی د بـل شمــار څہ برابر شی تماثُـل دے
ثالــث چی ئے مُفنــی شی وی بہ دا مــوافـــــقـــان

تـــــداخُــل کښ د اکثـــر فـنــــاء کــیـــدل وی
پـــہ اقـــــل بانـــدے خبـــر کـــړه روره ځـــان

اقـــل چی دی اکثـر لـــره مُفنــی شی تـداخُـل دے
چی یـــو پـــہ دی کښ نشـــی تبـایـن څہ شی عیـــان

## باب التصحیح

تصحیح د مسئلے لہ اووه(۷) اصول دی دینہ درے(۳)
واقــــــع دی د سهـــامـــو او رؤسو درمیــــان

ځلـــــور بین الـرُّؤس والـرؤس دی اے طالبہ !
تفصیل ئے راروان دے ځان بیدار کړه طالب جان

سِهـــام د کـوم فـریـق چـی مُـنقَسِم وی بِــلا کَسَرْ
حاجت نشتہ دی ضرب تہ مور او پلار شو او بنتـان

کــہ کسر پــہ فـریـــق واحـــده وو چــرتہ روره
لـیـــکـــن وی دا رُؤس دغـــہ سهـــام مــوافـقــان

تہ وفــق د رؤسو لہ ضرب ورکـــړه مسئـلـہ کښ
که چـرتہ عـولیـہ وی نو د عـــول څہ مهـــربان

مـثـــال د ړومبنـــی دے ابـویـــن ، عـشرَ بنـات
تصحیـح د مسئـلے بہ شی د دیرشو(۳۰) شم قربان

مثـال د عـــولیے زوج ، ابـویـن ، اختــہ ، بنـات
د دولسو(۱۲) نہ واخلے تر پینتالیس(۴۵) کړی رسان

کـــہ وفــق د رؤسو د سهـامو مینـځ کښ نـــہ وو
مَضروب بہ کُـل رُؤس وی مسئلہ کښ پہ دا شان

(* رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيم .اللهم حاسبنا حسابا یسیرا . اللهم قنا عذابك یوم تجمع عبادك *)

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

*کتبہ ۔ یاسر عرفات توحیدی بن میر آمان*

*فرغت من الکتابۃ ۲۰۲۰ / ۹ / ۷ . ( ۴۵ : ۲ بعد الظھر )*

## مدرسہ دارالقرآن سعید آباد کوتھا

جماعة اشاعةالتوحیدوالسنة

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔